# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۴۵مه ګڼه | پرله‌پسې ۵۹مه ګڼه
نېټه: ۱۴۰۴/۱۱/۲۹



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د کابل – بګرام سړک؛ د ښاري پراختیا او داخلي اتصال نوې کړکۍ

۲- بدخشان کې د زر وینځلو کانونه؛ د کارموندنې پراخ فرصتونه

۳- ایران ته د کرنیزو صادراتو پراختیا؛ د سوداګریز انډول پر لور ګام

## د کابل – بګرام سړک؛ د ښــاري پــراختیا او داخلي اتصال نوې کړکۍ

تېره اوونــۍ د کابل - بګرام ســړک د جوړېدو چارې د ریاســت الوزراء د اقتصادي مرستیال محترم مــلا عبدالغنــي برادر اخونــد له لوري رســماً پرانیستل شــوې. دغه سړک چې ۶،۲ کیلومتره اوږدوالی او شــاوخوا ۵۰ متره سور لــري، د ۴۵۵ میلیــون افغانیــو پــه لګښــت جوړېــږي. دا پــروژه د افغانســتان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د پروژې پرانیســته کې د خبرو پر مهال وویل، د افغانســتان اسلامي امــارت هڅه کوي چــې د واحد ملــي دریځ او اقتصاد محوره سیاســت له لارې هېواد ثبات او ودې ته ورسوي.

د اقتصاد محوره پالیســۍ پر بنسټ په هېواد کې د لویو لارو او ســړکونو پراختیا ته پاملرنه کېــږي، ځکه دا د اقتصادي فعالیتونو له پاره ډېــر مهم دي. پــه همد لړکــې د کابل - بګرام ســړک د کابل ښــار له مهمو ننښــلوونکو لارو شــمېرل کېــږي، چې کابل لــه پــروان او نورو شمالي ولایتونو ســره نښلوي. د ترانسپورتي زېربنــاوو پراختیا نه یوازې هېوادوالو ته د تګ راتــګ اســانتیا برابــروي، بلکې د ســوداګرۍ، پانګونې او ښــاري پراختیا له پاره هم اساسي اهمیت لري. د کابل – بګرام ســړک جوړېدل د نوي کابل ښــار د پراختیا او ارزښــت لوړېدو له پاره هــم مهم دی. د دې ســړک پــه جوړېدو ســره به د نوي کابل ښــار پراختیــا او هلته د پانګونې د زیاتېدو هیلې لا زیاتې شي.



اســلامي امارت د هېواد د سړکونو جوړول او پراختیــا لومړیتــوب ګڼي، ځکــه دا د هېواد د داخلــي اتصــال، د ســوداګرۍ د چټکتیــا، هېوادوالو ته د اســانتیاوو او دغه راز د سیمه ییز اتصال له پاره مهم دي.

اســلامي امارت د هېواد اقتصــادي وده خپل مسوولیت بولي او دا چې سړکونه د هېواد د اقتصادي ودې او ســوداګرۍ د پراختیا له پاره ډېــر مهــم دي، نو له همــدې امله ده چې د مختلفــو ولایتونــو ترمنــځ د ســړکونو د بیارغونې او پراختیا چارو ته توجه شــوې ده.

## بدخشــان کې د زر وینځلو کانونه؛ د کارموندنې پراخ فرصتونه

د کانونــو او پټرولیــم وزارت د معلوماتــو لــه مخې، د بدخشــان ولایت په څو ولسوالیو کې د زر وینځلــو کانونــو فعالیت لــه ۱۰۰ زرو ډېرو هېوادوالو ته په مســتقیم او غیر مستقیم



ډول د کار زمینــه برابــره کــړې ده. دغــه فعالیتونه د بدخشــان په شــهر بزرګ، یاوان، کوهستان، راغســتان، خواهان او ارغنجخواه ولسوالیو کې روان دي.

د کانونــو ســکتور د افغانســتان لــه مهمــو اقتصــادي ظرفیتونــو ګڼــل کېــږي. پــه تېرو لســیزو کې دغه سکتور له ګڼو ســتونزو سره مخ و، خــو د افغانســتان اســلامي امارت له راتــګ وروســته د کانونــو ســکتور تــه ډېــره پاملرنــه وشــوه. د کانونو اســتخراج قانوني شو، چې له امله یې اوس عواید ملي بودیجې ته ځي او دا بودیجــه بیا د هېواد د پراختیایي پروژو په تمویل کې مهم رول لوبوي.

د زر وینځلــو کانونو فعالیت د هېــواد له پاره ډېــر اقتصادي فرصتونه رامنځته کړي دي. په

دې کانونو کې زرګونه هېوادوال په مستقیم او غیر مستقیم ډول په کار بوخت دي، چې د بېکارۍ کچې کمولو کې یې مهم رول لوبولی دی. دغه راز د بازارونو فعالېدل، د عوایدو زیاتوالی او هېواد ته د بهرنیو پانګوالو راتګ نوري هغه اقتصادي ګټې دي چې له دې کانونو ترلاسه کېږي.

په ټوله کې د هېواد د کانونو مسلکي او قانوني استخراج د اقتصادي ودې لامل شوی دی. نه یوازې زر، بلکې د ډېرو سکاره، تېل، سیمنټ او نورکاني مواد د هېواد د اقتصادي پرمختګ لوړ ظرفیت لري او اسلامي امارت غواړي چې د افغانستان له ظرفیته د اقتصادي ودې په موخه ګټه واخلي.

## ایران ته د کرنیزو صادراتو پراختیا؛ د سوداګریز انډول پر لور ګام

د ایران او افغانستان د سوداګرۍ ګډې خونې د یو تن مسوول په وینا، ایران چمتو دی چې د افغانستان کرنیز او مالدارۍ محصولات په تضمیني ډول وپېري او وارد یې کړي.

دغه اقدام د افغانستان او ایران ترمنځ د سوداګرۍ انډول راوستو له پاره ډېر مهم دی او کولی شي چې د هېواد د صادراتو کچه لوړه کړي. دا کار د هېواد د عوایدو د زیاتېدو له پاره هم مهم دی.

په وروستیو کې ایران ته د افغانستان صادراتو کچه لوړه شوې ده او دا ښیي چې افغانستان نور په یوه هېواد متکي نه دی او د خپلو محصولاتو له پاره بدیل بازارونه لري.

د هېواد د اقتصاد ډېره برخه کرنه او مالداري تشکیلوي. د هېوادوالو ډېره برخه په همدې سکتور کې بوخته ده او همدا سکتور دی چې د هېواد په اقتصادي وده کې هم مهمه ونډه لري. د افغانستان اسلامي امارت واک ته له رسېدو وروسته د دې سکتور د پیاوړتیا او پراختیا په موخه مهم ګامونه اخیستي دي، ځکه د دې سکتور پراختیا نه یوازې د کاري فرصتونو د ایجاد له پاره ضروري ده، بلکې د هېواد د سوداګرۍ او اقتصادي ودې له پاره هم د دې سکتور ملاتړ ډېر مهم ګڼل کېږي.

